# د شام د جهاد درسونه

د فضيلة الشيخ أيمن الظواهري

فَلْنُقَاتِلْهُمْ بُنْيَانًا مَّرْصُوْصًا

بيان، له سريزې او حاشيو سره

ژباړن: عماد الدين خالد



# د شام د جهاد درسونه

## [د فضيلة الشيخ ايمن الظواهري

## فَلْنُقَاتِلْهُمْ بُنْيَانًا مَّرْصُوْصًا

## بیان له سریزې او حاشیو سره]

ژباړن: مولوي عماد الدين خالد

اداره حطين

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾ (الأعراف: ۱۵۲)

” د الله خو هغه خلک خوښ دي چې د هغه په لار کې په داسې شان صف تړلي جنګیږي، چې ګواکې هغوی یو محکم کړل شوی دېوال دی.“

# فهرست


سریزه ........................................................ ٦

د شام د جهاد درسونه................................................ ٦

نو راشئ! د اوسپنې د دېوال په څېر د دین د دښمنانو پر وړاندې وجنګېږو! ................. ١٢

[د شام جهاد دفاعي جهاد دی] .............................................. ١٤

[د شام جهاد د ټول امت جهاد دی، نه دا چې یوازې د شامي مسلمانانو جهاد دی] ....... ١٥

[د شریعت په رڼا کې د عهد او بیعت خورا جدي معامله] ............................ ١٦

[د اسلامي دولت له خوا له بیعت سره لوبې کول]................................ ١٨

[د مجاهدینو اړین صفتونه]................................................ ١٩

[موږ په هر ځای کې د یووالي او اتحاد بلنه ورکوو] .............................. ٢٠

[د تنظیم قاعدة الجهاد د لاس په سر کېدو دوه بنسټیز شرایط] ...................... ٢٠

[القاعده د اتحاد په لاره کې خنډ نه دی] ......................................... ٢٢

[په شام کې د القاعده مثبت رول او پر وړاندې یې سازش] ............................ ٢٢

[د فک الارتباط فتنه او د هغې لپاره درواغجن تأویلات]............................ .. ٢٤

[د امت په کچه ستر اتحاد] ................................................ ٢٥

[د مجاهدینو په منځ کې مینه او وروروالي، نه اخطارونه، ګواښونه او خپلمنځي شخړې] . ٢٦

[له شام څخه د القاعده ایستل، د وروستي شامي مجاهد د له منځه وړلو وروستی پلان].. ٢٧

[د بیعت ماتول حرام دي، په داسې حال کې چې د شام په جهاد کې د بیعت ماتول عام دي] ........................................................... ٢٨

[د شریعت له احکامو څخه د مخ اړولو نحوست] ..................................... ٢٩

[موږ د ملا محمد عمر مجاهد او ملا اختر منصور د درسګاه روزل شوي یو، کوم چې د وفا او

لوړو اخلاقو درس ورکوي] ............................... ......................................... ۳۱
[زموږ د اخلاقو او زموږ د مخالفینو د اخلاقو پرتله، د مقنع کندي د اشعارو په ژبه] ....... ۳۲
[خپلمنځي قتل او قتال] ........................................ ...................................... . ۳۳
[ولې شام د امت مسلمه له ستونزو څخه بې تراوه کېږي؟] ................................ ۳٤
[موږ غواړو چې د دين د دښمنانو پر وړاندې ټول امت يو صف شي] .................... ۳۸

# سریزه

# د شام د جهاد درسونه

**الحمدلله والصلوة والسلام علی رسول الله وبعد،**

په دنیا کې د انسان د عمل د سموالي دار ومدار پر دوو امورو ولاړ دی؛ یو د هغه اراده او بل د هغه فهم. که یې چېرته اراده یا فهم فاسد وي یا ناقص وي، نو په دواړو حالتونو کې د هغه عمل نه کامیابېږي. موږ مسلمانان یو، زموږ لپاره خو د لارې څراغ دین دی. موږ ددې خبرې پابند یو، چې په هره دنیوي معامله کې د دین لوري ته رجوع وکړو او پوه شو، چې په دې اړه زموږ رب او زموږ رسول صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه غوښتنه کوي؟ که چېرته زموږ نیت خالص وي، په هغه کې هیڅ غرض نه وي او له بل لوري موږ د دین لارښوونې سمې زده کړې او په خپله رښتینې نړۍ کې مو د هغه صحیح تطبیق زده کړ، نو زموږ عمل به ... د دنیا او اخرت په دواړو اعتبارونو سره ... کامیابه وي. که نه نو په دنیا او اخرت دواړو کې به له تاوان سره مخ شو.

کله چې جهاد د اسلام د دین هسکه څوکه ده، نو د دې موضوع معامله همدومره حساسه ده. په جهاد کې تر ټولو مهم شی نیت دی، جهاد هغه جنګ ته وایي، چې یوازې د الله تعالی د رضا لپاره وشي او اخلاص ورسره شرط دی، چې جهاد باید د کوم شخصي یا قومي لوړوالي، یا د سلطنت او حکومت د ترلاسه کولو لپاره نه، بلکې یوازې او یوازې د کلمة الله د لوړوالي، د اسلام د دین د غلبې او شریعت د نافذولو لپاره وي.

د جهاد د بریا لپاره بله ډېره مهمه خبره دا ده، چې جهاد د الله تعالی او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم له لارښوونو او تعلیماتو سره سم وي، نه دا چې د انسان د خود ساخته غوښتنو او مصلحتونو تابع وي. د دوست او دښمن پېژندل او بیا له دوست او دښمن سره د تعامل څرنګوالی، دا ټول باید د الله او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم په لاس کې وي، نه دا چې د یو کس یا یوې ډلې په لاس کې ورکړل شي، چې هغه بیا د خپلو شخصي ګټو او اغراضو له مخې د دوستۍ او دښمنۍ پرېکړه وکړي او بیا د جګړې اصول له خپلې خوښې سره سم جوړ کړي.

دا هغه دوه امور دي چې عام جنګ له جهاد څخه جلا کوي. موږ ګورو چې نن د مسلمانانو د

مغلوبيت په دې دوره کې چې په هره سيمه کې د جهاد غړ پورته کېږي او د جګړې ډګرونه ګرمېږي، د غرب او نړۍ کبرجن ځواکونه هڅه کوي چې دا سپېڅلی جهاد د يو عام او مادي جنګ په بڼه بدل کړي. هغوی په دې پوهېږي چې مسلمانان خامخا د خپلې ازادۍ لپاره د جنګ ميدان ته راکښته کېږي او د خپل دين، خپل شرف او حقوقو د ساتنې لپاره خامخا جنګ کوي، نو د دغه جنګ په جهاد د بدلولو مخنيوی د غرب اساسي هدف دی؛ ترڅو مسلمانان په رښتينې معنی د کفر له غلامۍ څخه آزاد نه شي او اسلام له خپل حقيقي روح سره په دنيا کې غالب نه شي.

موږ د يوه امت په توګه د تېرې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې فريب خوړلی دی، کله چې د غرب له لوري تقسيم شوې نړۍ په ظاهري توګه د آزادۍ له مرحلې تېره شوه، خو د واقعي ازادۍ پر ځای يوازې د څېرو بدلون و. موږ په پيل کې د غرب تر مستقيم ښکېلاک لاندې وو، خو له هغه وروسته د غرب د سيمه ييزو لاسپوڅو غلامان شوو، خو نه مسلمان ازاد شو او نه اسلام ازاد شو.

نن چې کله مسلمانان د دوهم ځل لپاره د جګړې ډګر ته راوځي، نو يو ځل بيا غرب غواړي مسلمانان په دې فريب کې مبتلا کړي او دا ځل غواړي، چې له يو نوي او پېچلي حالت سره يې مخامخ کړي. د نولسمې پېړۍ په نيمايي کې خو اکثرو هيوادونو ته تش په نامه آزادي ورکړل شوې وه او مسلمانان ژر پوه شول، چې موږ غرب ته په قوت سره ماتې نه ده ورکړې او د غرب تسلط مو په خپلو هيوادونو کې نه دی مات کړی، نو موږ نه شو آزادېدلای، خو دا ځل د جنګ او قوت له څرګندولو وروسته د غرب فريب دا دی، چې هغوی مسلمانان په جال کې را ايسار کړي او له زرګونو قربانيو ورکولو وروسته هم بالآخره مسلمانان له غلامي څخه خلاص نه شي.

د دې تر ټولو تازه او د غرب په نظر کې تر ټولو کامیابه مثال اوسنی شامي انقلاب دی. په ۲۰۱۱ ز کال کې د ایران تر سیوري لاندې د بشارالاسد د نظام خلاف مسلمانانو يو نوی جهاد پیل کړ، چې د اسد ظلم او ستم په کې خپل اوج ته رسېدلی و. په دوو کلونو کې دا مبارزه په داسې يو وسله وال جهاد بدله شوه چې د نړۍ له هر ګوټ څخه مسلمانان د ګډون لپاره ور ورسېدل. د مجاهدينو بېلابېلې ډلې په ډګر کې راڅرګندې شوې او «القاعده» د تر ټولو منظم او قوي جماعت په توګه راپورته شوه. په دې وخت کې د «الدولة الإسلامية عراق» ډلې مداخله وکړه، د القاعده امير شيخ ايمن الظواهري ... چې د دوی هم امير و ... دوی منعه کړل، چې خپل کار يوازې تر عراق پورې محدود وساتي، خو هغوی د امير امر ونه منلو او عهد يې مات کړ، په دې توګه د شيخ ايمن

الظواهري په مشرۍ «القاعده» له هغوی څخه خپله بیزاري اعلان کړه. بیا دغې ډلې په خپله خوښه د خلافت اعلان هم وکړ او له خپل ځان پرته یې ټول مجاهدین ... لومړی باغیان معرفي کړل او وروسته یې مرتد ورته وویل ... جنګ یې پیل کړ، چې له امله یې په شام کې یوه فتنه را پورته شوه. هغه مهال په شامي محاذ کې موجودو ټولو مجاهدینو د همدې فتنې مقابله وکړه او د شام له ځمکې یې پاکه کړه. له دې وروسته چې کله مجاهدینو قوت پیدا کړ، نو د «القاعده» بیعت په غاړه کې لرونکې ډلې «جبهة النصرة» د امریکا فشار بهانه وګرځاوه او د شامي مصلحت نوم یې ورکړ، له «القاعده» سره یې خپل بیعت مات کړ او د «فک الارتباط» اعلان یې وکړ. خو خبره یوازې پر دغه ځای ونه دربېده، بلکې له دې وروسته دغې ډلې د اتحاد بهانه جوړه کړه، په زور یې د نورو جهادي ډلو تر خپل واک لاندې د راوستلو هڅې شروع کړې، د نورو ډلو پر وړاندې یې په منظم ډول جنګ شروع کړ او د مجاهدینو نیول یې پیل کړل. داسې نو د شام پر ځمکه یوه نوې فتنه را پورته شوه. په دې موده کې چې مجاهدینو څومره فتوحات حاصل کړي وو، د دین دښمنانو له دغه داخلي جنګونو څخه فائده واخیسته، هغه مفتوحه سیمې یې له مجاهدینو څخه بېرته ونیولې او مجاهدین د شام په شمال کې د ترکیې پر سرحد پرته یوه سیمه ادلب کې بند پاتې شول. هغوی د څو کلونو لپاره په داسې حالت محصور کې پاتې شول ... چې هلته هم «هيئة تحرير الشام» د دین د دښمنانو په نسبت پر مخلصو مجاهدینو د بریدونو سلسله روانه وساتله ... یو په یو مجاهدینو جنګ شروع کړ او د سیمو په فتحه کولو سره یې دمشق فتحه کړ. د فتحې یو جشن و، چې د هر سني مسلمان سترګې ورباندې نمجنې وې او د ټولې دنیا د مسلمانانو او اهل السنة مجاهدینو امیدونه پیدا شول چې دادی، د تېرو کلونو د تېروتنو د ازالې وخت راغلی دی او که څه هم شامي مجاهدینو په لار کې څو فتنې لیدلې وې، خو اوس به د اسلام او مسلمانانو د لوړوالي سهار د تېرو غلطیو کفاره جوړېږي.

خو د هرې ورځې په تېرېدو سره د اهل السنة دا امیدونه ستړي او مانده کېدل او کرار کرار داسې څرګندېده، چې لا هم د تاریکیو شپه نه ده ختمه شوې، تر اوسه لا د کوتاهیو تدارک نه دی شوی او تر اوسه لا فتنې نه دي سر کوبې شوې. نوي شامي حکومت له یوې خوا د انقلاب پر مهال د اسلام د غلبې او د شریعت د حاکمولو نعرې شاته وغورځولې او سیکولر نظام یې عام کړ او بل طرف ته یې د مسلمه امت له مظلومو مسلمانانو او د ټولې نړۍ له مجاهدینو سره د ولاء او براء او

دوستي د قائمولو پر ځای د مسلمه امت له دښمنو قوتونو او پر مسلمانانو له مسلطو خائنو حاکمانو سره د اسلام په دښمني کې دوستي وکړه او بيا يې د غرب له لوري د تروريزم پر وړاندې په دې جګړه کې له غرب سره ملګرتيا قبوله کړه، کومه چې د مسلمانانو پر وړاندې پيل شوې وه او د کومې پر وړاندې چې د اسلام او مسلمانانو د دفاع لپاره مجاهدينو جهاد پيل کړی و.

له دې هر څه څخه دا څرګندېږي چې:

- که د هرې جهادي ډلې په ذهن کې دا خبره واچول شي، چې هر ډول ديني مصلحت ددې له ذات سره تړل شوی دی، نو ځکه د جنګ مقصد ددې ډلې ذاتي لوړوالی دی، بس دا د جهاد په نيت او اراده کې لومړنۍ خطا ده. دا خطا هغه څوک کوي، چې خپل ځان د خلافت حقدار ګڼي او يا څوک تر دې هم کم دليل وايي.
- بيا يې دا خطا د جنګ پر مهال د شريعت د احکامو پر مخالفت مجبوروي او دا ډله د نورو مجاهدينو پر وړاندې را پورته کېږي. وروسته پر هيڅ عهد او بيعت د وفا کولو خيال نه ساتل کېږي، بلکې د غدر او خيانت جائز تصور کېږي. بيا داسې ډله د نورو مجاهدينو په وېرولو، بندي کولو، وژلو او له هغوی سره په جنګ کولو اخته کېږي. که څه هم يوه ډله دا کار پر خپلو مخالفينو د ارتداد د فتوی په لګولو سره وکړي او يا د سياستاً قتل په دليل سره هغوی شهيدان کړي، يا يوه ډله د «وطني مصلحت» په نوم مهاجرين بې واکه کړي.
- د ارادې د خطا يوه نتيجه دا را وځي، چې د واک د ترلاسه کولو لپاره ... د اسلام د موالات او معادات احکام شاته وغورځول شي ... له کفارو سره پر مصالحت مجبورېږي. د هغوی د راضي کولو په خاطر د هغوی اطاعت پيلوي، ترڅو کفار دوی خالص مجاهدين او د اسلام د خالصې نسخې حاملين او د ځان دښمنان ونه ګڼي او اقتدار ته د دوی د رسيدو په لار کې خنډونه ايجاد نه کړي.
- په پای کې که غربي استعماري ځواکونه په دې اطمينان ترلاسه کړي، چې دغې ډلې د اسلام له اصولو او د جهاد له اساساتو او لاربښوونو څخه په رښتينې توګه تنزل کړی دی او په دې راضي ده، چې واک ته ورسېږي، خو د غرب تر واک به لاندې وي، بلکې د همدې غرب د دين او امت له دښمنۍ څخه عبارت پلانونه به مخته وړي، نو داسې ډلې

ته موقع ورکوي او بیا د دوی دغه اقتدار او واک په خپله د دوی لپاره د فتنې سبب گرځي او د نورو مسلمانانو لپاره هم فتنه جوړېږي. والعیاذ بالله .

موږ پر دې موقع د شام په انقلاب کې د عبرت درسونه د پښتنو مسلمانانو او په ځانگړې توگه د جهادي ډلو مخې ته راوړلو په خاطر د امت د حکیم شیخ ایمن الظواهري بیان «فلنقاتلهم بنیانا مرصوصا» متن پښتو ژباړه وړاندې کوو. د امت د حکیم دا بیان د ۲۰۱۷ ز کال په نومبر میاشت کې خپور شوی و، چې مسلمانان او په ځانگړې توگه مجاهدین یې په شام کې له شته فتنو او د غربي قوتونو له چلونو څخه خبر کړي دي. دا د جهاد په صحیح منهج، د هغه پر وړاندې له غلطې لارې او فتنې څخه د خبرولو لپاره د هند د نیمې لویې وچې په سیمه کې په جگړه کې د ښکېلو جهادي تحریکونو او د هغوی د مرسته کونکو او ملاتړو لپاره ډېر زیات مهم دی.

البته تر ټولو زیاته او مهمه خبره دا ده چې موږ د الله تعالی د احکامو په رڼا کې د جهاد د سم فهم او پوهې د ترلاسه کولو هڅه وکړو، ځکه له موږ څخه هر یو له خطا او اشتباه څخه خوندي نه دی او د نفس غوښتنې د انسان عقل له سم استعمال څخه راگرځوي او د همدې په وسیله د سم فهم له تر لاسه کولو څخه محروم گرځي، موږ دا خبره په ډاگه کوو چې زموږ موخه د شریعت په صحیح مفهوم د مجاهدینو پوهول او د کفارو او د هغوی د غلامانو پر وړاندې د ټولو مسلمانانو متحد کول دي، تر څو د جهاد له لارې اسلام برلاسی وگرځوو.

موږ له الله تعالی څخه دعا کوو چې د شام اوسنیو واکمنانو ته د حق لارې ته د رجوع توفیق ورکړي، د اسلام پر احکامو پخپله هم د عمل توفیق ورکړي او د شامي مسلمانانو لپاره هم د شرعي قوانینو د نافذولو توفیق ور په برخه کړي. الله تعالی دې هغوی د کفارو له غلامي څخه وساتي، د کومې چې نیتجه د دنیا او آخرت خساره ده. الله تعالی دې شام په رښتینې معنی د اسلام کور وگرځوي.

موږ له الله تعالی څخه امید لرو، چې هغه وخت ډېر ژر راشي، خو ددې لپاره د کفارو او د هغوی د لاسپوڅو له لارو څخه د ځان ژغورل او د دین او شریعت د احکامو غېږې ته د بیرته راگرځېدو لار غوره کول خورا اړین دي.

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين وصلى الله تعالى على نبينا الامين.

**ادارۂ حطین**

**ربیع الاول ۱۴۴۸ ھ.ق**

# نوراشئ! د اوسپنې د دېوال په څېر د دین د دښمنانو پروړاندې وجنګېږو!

**بسم الله، والحمد لله، والصلوة والسلام على رسول الله، وآله وصحبه ومن والاه.**

ټولو مسلمانانو وروڼو ته، السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.

اما بعد!

تېر کال د ټولې نړۍ مجاهدین ... په ځانګړې توګه له شام سره تړاو لرونکي مجاهدین ... له بېلابېلو بدلونونو او ستونزو سره مخ شول. د مجاهدینو په خپلمنځي صفونو کې دننه وضعیت مسلسل خراب شو، تر دې چې د خپلمنځي نښتو او جګړو نوبت راورسېد.

د فک الارتباط د اعلان[1] تر یوه کال ډېر وخت شوی دی، خو ما تر اوسه په دې اړه خبرې نه دي

[1] د «فک الارتباط» له اعلان څخه مراد د ۲۰۱٦ میلادي کال په جولای میاشت کې شوی اعلان دی، چې له «القاعده» سره تړاو لرونکې «جبهة النصرة» ډلې له «القاعده» سره د خپل بیعت ختمولو او «جبهة فتح الشام» جوړولو اعلان وکړ. «جبهة فتح الشام» دعوه کوله، چې دوی دا کار د «القاعده» د مشرتابه په اجازه او له هغوی سره په تفاهم سره کړی دی او ددې کار دوه اساسي دلائل دي:

لومړی: له نورو جهادي ډلو سره د «القاعده» تر نامه لاندې اتحاد امکان نه درلود، نو داسې به لار ورته هواره شي.

دوهم: له «القاعده» سره د پرېکون په وسیله به له امریکایي فشار څخه ځان خلاص کړي.

له هغه وروسته شیخ ایمن الظواهري په واضحو ټکو وویل، چې له بیعت څخه یې اقاله نه ده ورکړې او نه په دې راضي دی، چې بیعت دې ختم کړل شي، ځکه په دې کې هیڅ ډول مصلحت نشته؛ نه په دې سره اتحاد ته لار هوارېږي او نه د امریکا فشار وربانديې کمېږي. همدا راز یې د «جبهة تحریر الشام» مجاهدینو ته وویل، چې دوی د «القاعده» د اوامرو پابند دي او باید بېرته د اطاعت په لور را وګرځي، خو «جبهې» انکار وکړ. ګویا په څرګند ډول یې بیعت مات کړ. د داعش له فتنې وروسته په شامي انقلاب کې همدا د انحراف لومړۍ نقطه وه، چې کرار کرار زیاته شوه. په دې بیان کې هم شیخ ایمن الظواهري وروسته پر دې موضوع بحث کړی دی. په دې اړه د شیخ سامي العریدي حفظه الله د ۲۰۱۷ میلادي کال د اکتوبر میاشت په نیمایي کې «شهادات حول فک الارتباط بين جبهة النصرة (فتح الشام) وتنظيم القاعدة» په نوم سره پنځه مستندات نشر کړل او په هغو کې یې پر دغه معامله تفصیلي رڼا واچوله. لوستونکي کولای شي د لا زیاتو معلوماتو لپاره ورته رجوع وکړي. (اداره)

کړې، ځکه د حلب له سقوط وروسته حالاتو ددې اجازه نه راکوله. ددې معنی کله هم دا نه ده، چې زه، له ما سره په مرکزي قیادت کې شامل ورونه او د تنظیم نور ټول ښاخونه له ورځنیو روانو حالاتو څخه بې خبره وو یا مو علاقه نه ورسره لرله. خو موږ په ټولنیزو رسنیو کې د بحث تودولو پر ځای په خاموشي او سنجیدګي سره د دې قضیې اصلاح ته ترجیح ورکړه.

موږ خپلو ورونو ته دا خبره روښانه کړې وه، چې د دوی دا کار له عهد ماتولو سره سره هغه وحدت او یووالی هم نشي را وستلای د کوم چې دوی تمه لري، ځکه په حقیقت کې دا د امریکا د فشار پر وړاندې شاتګ دی. په دې سره نه بمبارۍ درېږي، نه د تروریستانو په لیست کې د شاملېدو سلسله پای ته رسېږي او نه هغه نور مقاصد او اهداف تر لاسه کېدای شي، د کومو لپاره چې دوی دا کمزوري دلائل وړاندې کړي و.

د هغو ډلو په لېست کې چې په دې جګړو کې ښکېلې وې، د ځینو کمزوریو او ستونزو له امله هغوی ته ډېر تاوانونه ورسېدل.

که په رښتیا هم په دې سره اتحاد را منځته کېدلای، نو موږ به یې تر ټولو وړاندې هرکلی کړی و او د دوی له تېرو کړنو به ور تېر شوي وو، خو هغوی یوه نوې ډله رامنځته کړه، چې له امله یې حالات نور هم پسې خراب شول[2]. نن د هغې په پایله کې د مجاهدینو په منځ کې خپلمنځي قتل و قتال، چاپې او جنګونه پیل شول. یوه او بل ته په کمین کې کښېنستل او د مجاهدینو تر منځ دښمني پیدا شوه، په داسې حال کې چې دښمن ورځ په ورځ مخ په وړاندې روان دی، له یو ځای څخه بل ځای ته د تللو سلسله پیل شوې ده، د ترکیې د لوی برید خطر زیات شوی دی، د امریکا پلان په

[2] د «جبهة فتح الشام» له جوړېدو وروسته د اتحاد او وحدت په بهانه «جبهې» د نورو جهادي ډلو پر وړاندې مخکې تګ پیل کړ. پر نورو جهادي ډلو یې مختلف الزامونه ولګول، د هغوی ختمول او د هغوی افراد یې له خپلې ډلې سره یو ځای کول پیل کړل. تر دې چې خبره قتل او قتال ته ورسېده او د شام جهادي ډلو پخپل منځ کې جنګونه سره پیل کړل. ګویا د کوم اتحاد لپاره چې «جبهې» لومړی بیعت مات کړ او غدر یې وکړ اوس یې د هغه اتحاد په دلیل د مجاهدینو ناحقه وژل او بندي کول پیل کړل. نتیجه یې دا راووته، چې د مجاهدینو په لاسونو کې چې کوم قوت و، هغه کمزوری شو او د اسلام دښمنانو د مجاهدینو پر مفتوحه سیمو واک تر لاسه کړ. (اداره)

شام کې هره ورځ خپلې پنجې پراخوې او ایران او حزب الله په مختلفو ځایونو کې پرمختګونه کوي.

سربېره پر دې، عام مجاهدین له حقیقت څخه بې خبره ساتلو حالات نور هم خراب کړل. هغوی ته دا باور ورکړل شو، چې کوم څه کېږي، هغه ټول د «القاعده» د قیادت په خوښه ترسره کېږي او چې څوک له «القاعده» سره په بیعت کې پاتې کېږي، هغه باید ونیول شي، دا خو لا لیرې خبره ده، چې د «القاعده» په نوم کومه نوې ډله جوړه کړي. بیا له «القاعده» سره په بیعت کې پر پاتې شویو ورونو د فشار او سختۍ پالیسي پیل شوه، تر دې چې خبره د «القاعده» د مجاهدینو تر قتل، بندي کولو او د هغو د کورنیو او ماشومانو تر ځورولو پورې ورسېده.

موږ په ډېر سکون او خاموشۍ سره ددې ټولو مسائلو د اصلاح او له نوي سره پر لار د سمولو لپاره ډېر خطوط ولیکل او ډېرې رابطې مو وکړې، په دې ټوله موده کې مو همدا لاره غوره کړه او اهل خیر ته مو هم د همدې نصیحت وکړ.

تر یوه کال د ډېر وخت لپاره مو هغوی ته بیا بیا فرصت او مهلت ورکړ، خو ومو لیدل چې حالات ورځ په ورځ د خرابېدو لوري ته روان دي، تفرقه او اختلاف زیاتېږي او پر حقوقو او حرمتونو باندې د تجاوز او د ظلم او ستم لړۍ په زیاتېدو ده. په دې توګه د شام مجاهدین په یوه لوی مصیبت او ستونزه کې ګیر شول او مجاهدین په دې حالت کې حیران پاتې دي.

له همدې امله ما دا مناسبه وګڼله چې دا څو لنډ ټکي ستاسې په وړاندې کېږدم، ترڅو په وسیله یې حقائق په خپلو ځایونو کې واضح شي، د زړونو نا ارامي ختمه شي، د صفونو د متحد کولو او د زړونو د یو ځای کولو هڅه وشي. امید ده چې الله تعالی په دې سره د مجاهدینو او مسلمانانو په زړونو کې قبولیت او برکت واچوي. او ورسره زه ددې خبرې اقرار کوم، چې زه او زما ورونه تر ټولو ډېر د نصیحت محتاج یو او موږ خپل ځانونه له کوتاهي څخه بري نه ګڼو.

## [د شام جهاد دفاعي جهاد دی]

تر ټولو لومړی زه په یو څرګند حقیقت باندې تاکید کول غواړم او هغه دا دی چې د شام دا جهاد، یو دفاعي جهاد دی. فقهاء کرامو لیکلي دي چې دداسې جهاد لپاره هیڅ شرط نه دی مقرر شوی،

بلکې بریدګر دښمن دې د خپل توان مطابق دفعه شي، پر شا دې ټېل وهل شي او ددې هدف لپاره له ټولو مسلمانانو ... ښو او بدو، نیکانو او فاسقانو ... څخه مرسته اخیستل کېدای شي.

## [د شام جهاد د ټول امت جهاد دی، نه دا چې یوازې د شامي مسلمانانو جهاد دی]

دوهمه خبره دا ده چې د شام دا جهاد په اصل کې د ټول مسلمه امت جهاد دی. دا خبره سمه نه ده، چې د شام جهاد یوازې د شامیانو، سوریایانو، د ادلب، درعا یا دمشق د خلکو جهاد دی. همدا راز هیچا ته هم دا نشي ویل کېدای، چې «له شام څخه ووزه!» یا «که ته دلته په آزادانه ډول فعالیت کوې، نو مصلحت په دې کې دی، چې ته وایستل شې!» ځکه دا طرز د فقهاء کرامو له مقرر کړل شویو هغو اصولو سره په ټکر کې دی، چې ټول هیوادونه د یوه ښار په څېر دي، مسلمانان یو امت دي، په دوی کې د تر ټولو ټیټې درجې مسلمان هم د ټولو له لوري کفارو ته امان ورکولای شي او دوی له خپل ځان پرته د نورو په مقابله کې یو متحد قوت دی[3].

د شام خلک په خپلو منځونو کې ددې باطلو خبرو تکرار څنګه قبلولای شي، په داسې حال کې د مسلمانانو په دفاع کې د دوی زرین تاریخ زموږ په مخ کې دی؟

امام عزالدین بن عبدالسلام رَحِمَهُ ٱللَّهُ څوک و؟ آیا هغه د دمشق نه و؟ هغه د مصر په لور هجرت

---

[3] کله چې «جبهې» د نورو جهادي جبهو ځپل پیل کړل، نو ورسره یې هممهاله د شام په محاذ کې دا پروپاګند هم پیل کړ، چې د شام د جهاد مصلحت دادی، چې په شام کې باید یوازې شامي مجاهدین وي، له نورو سیمو څخه د راغلو مجاهدینو په سبب د امریکا فشار زیاتېږي او حالات خرابېږي، نو هغوی باید بېرته خپلو سیمو ته پر تللو مجبور کړل شي، یا باید خپله جلا پېژندنه ختمه کړي او په بشپړ ډول د «جبهې» د پلان برخه شي. دا هغه دوهم لوی تنازل (شاتګ) و، چې تر امریکایي فشار لاندې «جبهې» قبول کړ او د مهاجرو مجاهدینو نیول او ځورول پیل کړل، مګر دا چې له هغوی څخه یو د «جبهې پلان مکمل مني. دا خو د اوس حالاتو واضحه کړه، چې دا امریکایي فشار نه و، بلکې امریکایي پلان و او «جبهه» په کې د یوې آلې په ډول استفاده شوه. (اداره)

وکړ، د تاتاريانو پر وړاندې يې د جګړې ترغيب ورکړ او الله تعالی د «عين جالوت» په سيمه کې مسلمانانو ته د تاتاريانو په وړاندې فتحه ورکړه. سليمان الحلبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ څوک و؟ آيا هغه په قاهره کې جنرال کليبر ونه واژه؟ شيخ عزالدين القسام رَحِمَهُ ٱللَّهُ څوک و؟ آيا هغه د لاذقيې په اطرافو کې د «جبلې» اوسېدونکی نه و، چې د فلسطين جهاد ته ور وړاندې شو؟ ابو مصعب السوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ او ابو خالد السوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ څوک وو؟ آيا هغوی د افغانستان په لور هجرت نه و کړی؟

که چېرته سيدنا خالد بن وليد رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ يا سيدنا ابو عبيده بن الجراح رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ، يا ترک نژاده سلطان نورالدين زنګي رَحِمَهُ ٱللَّهُ، کرد نژاده سلطان صلاح الدين ايوبي رَحِمَهُ ٱللَّهُ، قفقازي سلطان سيف الدين قطز رَحِمَهُ ٱللَّهُ، يا يمني شيخ اسامه بن لادن رَحِمَهُ ٱللَّهُ د شام خلکو ته راغلي وای، نو آيا هغوی به ورته ويل، چې: «له شام څخه ووزئ؛ تاسې شاميان نه ياست!» او آيا پر دغه اساس به يې د هغوی حقونه غصبول، پر هغوی د بنديزونو لګول او له هغوی سره د مرستو پرې کول جائز بلل؟

بيا دا نعره څه ده، چې «**زموږ کوم بهرني روابط نشته؟**» آيا که سيدنا خالد بن وليد رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ د شام خلکو ته راتلی، نو هغو به ورته ويل، چې: «له شام څخه ووزه، ځکه چې ته له سيدنا ابوبکر صديق رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ او سيدنا عمر بن خطاب رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ سره بهرنی اړيکې لرې؟»

## [د شريعت په رڼا کې د عهد او بيعت خورا جدي معامله]

دريمه خبره چې زه غواړم ستاسې پام ورته راواړوم، هغه دا ده، چې عهد او بيعت خورا مهم او جدي امور دي، چې په هيڅ صورت پکې لوبې او بې غوري نه شي کېدای، بلکې شريعت يې د پوره کولو حکم کړی دی. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ [المائدة: ١]

«اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! خپلې ژمنې او عهدونه پوره کړئ.»

او بل ځای الله سبحانه وتعالی فرمايي:

وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدتُّمْ وَلَا تَنقُضُوا الْأَيْمَانَ بَعْدَ تَوْكِيدِهَا وَقَدْ جَعَلْتُمُ اللَّهَ عَلَيْكُمْ كَفِيلًا ۚ إِنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ ۝ وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِن بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا تَتَّخِذُونَ أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ [النحل: ٩١-٩٢]

«او کله چې تاسې له الله سره کوم عهد او تړون وکړئ، نو هغه پوره کړئ، او خپل قسمونه د هغو

له کلکولو وروسته مه ماتوئ، په داسې حال کې چې تاسې الله پر ځان باندې کفیل ګرځولی دی. بې شکه الله پوهېږي په هغه څه چې تاسې يې کوئ. او د هغې ښځې په څېر مه کېږئ چې خپل تار يې د کلک اوبدلو وروسته بېرته ټوټې ټوټې کړ، چې تاسې خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د دوکې او فساد وسیله وګرځوئ».

همدارنګه الله سبحانه وتعالی فرمايي:

وَلَا تَتَّخِذُوا أَيْمَانَكُمْ دَخَلًا بَيْنَكُمْ فَتَزِلَّ قَدَمٌ بَعْدَ ثُبُوتِهَا وَتَذُوقُوا السُّوءَ بِمَا صَدَدتُّمْ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ۖ وَلَكُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ [النحل:۹۴]

«او خپل قسمونه په خپلو منځونو کې د فساد او دوکې وسیله مه ګرځوئ، چې په نتیجه کې يې د چا پښه د کلک درېدلو وروسته وښوېږي او تاسې ته د الله له لارې څخه د خلکو د اړولو په سبب سزا درکړل شي او (په داسې صورت کې به) ستاسې لپاره يو لوی عذاب وي».

زه دلته په پوره قاطعیت دا خبره روښانه کول غواړم، چې موږ هیڅوک د هغه له بیعت او عهد څخه نه دي ازاد کړي. موږ یوازې «ابراهیم البدري[٤]» او د هغه ملګري له جماعت څخه وایستل، خو

[٤] «ابراهیم البدري» د داعش ډلې د مشر «ابو بکر البغدادي» اصلي نوم دی. په ابو بکر البغدادي او د هغه په ملګرو کې له پیل څخه غلو وه، خو ښکاره شوې نه وه. دوی له شیخ اسامه بن لادن رحمه الله څخه وروسته شیخ ایمن الظواهري خپل امیر منلی و او د هغه اطاعت يې کاوه، ځکه نو مشایخو له اولې ورځې څخه پر هغه امورو چې د اصلاح قابل وو، دوی متوجه کول. کله چې په ۲۰۱۱ میلادي کال کې د شام پاڅون پیل شو او په ۲۰۱۳ ز کال کې هلته د جهاد ډګرونه تاوده شول، نو له عراق څخه ډېر مجاهدین شام ته لاړل. په دې وخت کې ابو بکر البغدادي دا وکړل، چې خپل تنظیم ته يې د «الدولة الاسلامیة في العراق والشام» نوم ورکړ .... د مسلمانانو له مشورې پرته .... يې په شام کې هم خپل ځان امیر وګڼلو. شیخ ایمن الظواهري هغه له دې خبرې څخه منع کړ او هغه ته يې حکم وکړ، چې تر عراق پورې محدود شي، خو هغه مهال له حکم منلو څخه انکار وکړ او له خپلو مخالفینو سره يې جنګ پیل کړ. دلته نو هغه خپله پټه کړې غلو او فکري فساد څرګند کړ. نو د همدې منکراتو په سبب د ۲۰۱۴ میلادي کال په فروري میاشت کې شیخ ایمن الظواهري له ابوبکر البغدادي او د هغه له ډلې څخه د برائت اعلان وکړ. دا هغه وخت و، چې ابوبکر البغدادي د خپل مزعومه خلافت اعلان نه و کړی. داسې نو ابوبکر البغدادي، ابو محمد العدناني او د دوی ملګري په غلو کې وړاندې تلل، دوی د ۲۰۱۴ میلادي کال د جون میاشتې په ۲۹ نېټه د خلافت اعلان وکړ، پر ټولو مسلمانانو يې خپل بیعت واجب وګرځاوه، نه منونکي ته يې د باغي حکم ورکړ. له هغه وروسته يې بیا یوازې خپل ځان ته د حق واحد جماعت ویل پیل کړل او له خپلې ډلې پرته يې د نورو مسلمانانو تکفیر پیل کړ. هغه وخت د امت علماء کرامو ابو بکر البغدادي او د هغه جماعت ته د خوارجو حکم ورکړ او له دوی سره يې د هغې معاملې کولو پرېکړه وکړ، کومه چې له خوارجو سره کېږي. پخپله په هغه بیان کې شیخ ایمن الظواهري د دوی لپاره د «خوارجو» او «تکفیریانو» الفاظ کارولي دي. دا وضاحت مو ځکه وکړ، چې ځینې خلک وایي، چې د القاعده او داعش تر منځ په عقائدو کې هیڅ فرق نشته، د دوی تر منځ

موږ هيڅوک هم له خپل بيعت څخه نه دي آزاد کړي، که هغه جبهة النصرة وي او يا بل څوک او همداراز موږ د جبهة النصرة د بيعت خبره هم پټ ساتل قبول نه کړل، بلکې هغه مو يوه هلاکونکې غلطي وبلله.

زموږ او د هغو کسانو چې بيعت يې کړی دی، ترمنځ بيعت يو لازمي تړون دی، چې ماتول حرام او پوره کول يې واجب دي.

## [د اسلامي دولت له خوا له بيعت سره لوبې کول]

زما په ياد دي، چې کله مې شيخ ابو خالد السوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ د تنظيم قاعدة الجهاد له لوري د «الدولة الإسلامية» او «جبهة النصرة» ترمنځ د روغې جوړې او د شريعت د احکامو د پلي کولو لپاره د منځګړي په توګه نماينده مقرر کړ، نو هغه ماته يو ليک وليکی، په هغه کې يې د «البدري» د ډلې د بيعت په اړه داسې ليکلي و:

> «زه له تاسې څخه دا حقيقت نه پټوم چې کله دا دښمني او تفرقه رامنځته شوه، نو له هغې سره سم بد کرداري او بهتان لګول هم پيل شول. که تا قاضي شريح رَحِمَهُ ٱللَّهُ يا قاضي آياس بن معاويه رَحِمَهُ ٱللَّهُ هم منځګړي ټاکلي وای، دوی به نه وو راضي شوي. «القاعده» د دوی لپاره يوازې يو داسې نوم دی، چې دوی د وحشت احساس ترې کوي، يو داسې تنظيم نه دی، چې دوی يې په رښتيا غواړي. دوی يوازې په خپلو خواهشاتو پسې دي، نو کله چې ما د هغوی د خواهش مخالفت وکړ، هغوی وويل: «نه مو خبره اورو او نه مو اطاعت کوو»».

له همدې امله، زه خپلو محترمو ورونړو ته ... کومو چې له «تنظيم قاعدة الجهاد» سره بيعت کړی دی ... وايم:

اې زما محترمو او ګرانو ورونړو! په تنظيم قاعدة الجهاد کې ستاسې دا بيعت زموږ لپاره د وياړ او افتخار ځای دی او زموږ د سرونو تاج دی. موږ له الله تعالی څخه دعا کوو چې موږ د دغه بيعت

---

يوازې په اداري کارونو کې اختلاف دی. (اداره)

اهل وګرځوي، موږ ته ستاسې د نیک ګمان مطابق عزت راکړي او زموږ هغه کمزورۍ راته وبخښي، له کومو چې موږ خبر نه یو.

نو له خپل رب سره پر کړي عهد باندې ثابت قدمه واوسئ! په هر شور او غوغا، شبهاتو او پروپاګندونو باندې مه خفه کېږئ او مه هر ځل اجازه اخلئ. د عهد ماتولو له کثرت څخه ځان وساتئ. نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي:

«إِذَا جَمَعَ اللَّهُ الْأَوَّلِينَ وَالْآخِرِينَ يَوْم الْقِيَامَةِ يُرْفَعُ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءٌ، فَقِيلَ: هَذِهِ غَدْرَةُ فلان بن فُلَانٍ».

«کله چې الله تعالی د قیامت په ورځ لومړي او وروستي انسانان راټول کړي، نو د هر هغه چا لپاره چې عهد او ژمنه یې ماته کړې وي، يو بيرغ به پورته کړل شي او و به ويل شي چې دا د فلان د فلان زوی غدر او خيانت دی».

دا بیعت پر موږ باندې ستاسې د خیرخواهۍ، لارښوونې، ساتنې او له حالاتو څخه د خبرولو حق لازم ګرځوي او پر تاسې باندې زموږ د خبرې اورېدلو او اطاعت کولو حق لازم ګرځوي، نو ځکه یو له بل سره مینه او الفت لرونکي جوړ شئ او اتحاد سره وکړئ، د الله تعالی د دوستانو لپاره مکمل خیر او د هغه د دښمنانو پر وړاندې د جنګ پیکر جوړ شئ. هر ځای د مسلمانانو او مظلومانو مرسته وکړئ. د هر خیر د ترلاسه کولو لپاره یوازې له الله تعالی څخه مرسته غوښتل کېږي.

## [د مجاهدینو اړین صفتونه]

زه په شام کې د تنظیم قاعدة الجهاد له خپلو وروڼو او سپاهیانو څخه غوښتنه کوم، چې له ټولو مجاهدینو سره مرسته وکړي، اجتماعیت پیدا کړي او د خپلمنځي رخنو دکولو هڅه او کوشش وکړي، د نیکي په کارونو کې وړاندې والی وکړي، د شهادت په ترلاسه کولو کې یو له بل څخه سبقت وکړي، په صفونو کې مخته مخته واوسي او د مجاهدینو، مهاجرینو، مظلومانو او ټولو مسلمانانو د خدمت لپاره تل چمتو واوسي. د ځان او مال، په قرباني کولو، ایثار، مرسته او د مجاهدینو او مسلمانانو د زړونو په پیوند کولو کې تر ټولو وړاندې، خو په شر، اختلاف او خپلمنځي نزاع او کشمکش کې تر ټولو شاته پاتې شي.

زه دوی ته واضح حکم کوم، چې د اشغالگرو قوتونو، صفوي رافضیانو، صلیبیانو او له دین څخه وتونکو خوارجو پر وړاندې په جهاد او قتال کې له خپلو ټولو مجاهدینو ورونو سره مرسته وکړي، برابره خبره ده، که هغه له دوی سره متفق وي او که اختلاف ورسره لري.

او له دې خبرې څخه یې په پوره شدت سره منعه کوم او په سختۍ سره خبرداری ورکوم، چې له هیچا سره هم د مسلمانانو پر حقونو په ظلم، تجاوز او لاس اوږدولو کې مرسته ونه کړي. همداراز د کفارو هغه حقوق هم پامال نه کړي، کوم چې شریعت تسلیم کړي وي. هیڅ حرامه وینه حلاله ونه ګڼي، پر محفوظ مال قبضه ونه کړي، د یو مسلمان پر آبرو، عزت، شرف او وقار باندې لاس پورته نه کړي او نه یوه داسې کافر ته تکلیف ورسوي، چې د هغه حق شریعت خوندي کړی وي.

زما له علم او ګمان سره سم، زما وروڼه له دغه ډول غلطو کړنو څخه پاک دي. خبر دار! آیا ما خپل پیغام ورساوه؟ اې الله! ته شاهد اوسه.

زه په شام کې د تنظیم قاعدة الجهاد له مجاهدینو څخه دا هم غواړم چې له خپل قیادت سره په پرله پسې توګه په اړیکه کې پاتې شي، د دوی قیادت د الله تعالی په نصرت سره هره ورځ د دوی په خدمت کې دی.

## [موږ په هر ځای کې د یووالي او اتحاد بلنه ورکوو]

څلورمه خبره دا ده چې موږ په شام او له شام څخه بهر په هره سیمه کې د مجاهدینو ترمنځ د اتحاد او یووالي دعوت ورکوو. دوی ته به دا هم یاده وي، چې کله د شام پر محاذ باندې د «**الجبهة الإسلامية**» اعلان وشو، ما خپلو دواړو ورونو شیخ ابو خالد السوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ او شیخ جولاني – الله تعالی دې توفیق ورکړي - ته دا پیغام لېږلی و، چې جبهة النصرة له دې محاذ سره ولې اتحاد نه کوي؟ ما د دوی دواړو تر منځ د اتحاد لپاره د هڅو ترغیب ورکړ او دا مې ورته وویل، چې کله پر یوه خبره باندې اتفاق وشو، نو تر هر څه لومړی یې په اړه ماته خبر راکړئ.

## [د تنظیم قاعدة الجهاد د لاس په سر کېدو دوه بنسټیز شرایط]

زه په شام کې خپلو مجاهدینو ورونو ته دا خبره وریادوم، چې تنظیم قاعدة الجهاد وار له مخه دا

اعلان کړی دی چې هغوی په شام کې د اسلامي نظام د نفاذ او د مجاهدینو د اتحاد لپاره له خپل تنظیمي تړاو څخه تېرېدو ته چمتو دي، په دې شرط چې دا لاندې دوه امور پوره شي، له کومو پرته چې بل دریم شرط نشته.

**لومړی شرط** دا دی چې د شام ټول مجاهدین سره متحد شي.

**دوهم شرط** دا دی چې په شام کې یو اسلامي حکومت رامنځته شي او د شام خلک د خپل ځان لپاره یو امام وټاکي.

نو، او یوازې هغه وخت[5]... تر هغه مخکې نه ... موږ له خپل تنظیمي تړاو څخه لاس اخلو. د اهلِ شام په منتخب شوي نظم کې به په بشپړ ډول ځای پر ځای شو او زموږ تر منځ به یوازې د اسلام او جهاد تړاو پاتې شي.

خو دا خبره چې له اتحاد پرته نوي نوي تنظیمونه جوړېږي او په هغوی کې د شاملېدو او له هغوی څخه د خارجېدو بې معنی سلسله بیا بیا تکرارېږي، موږ دا کار رد کړی دی.

زما د علم په حد کې، دا د تنظیم قاعدة الجهاد یو داسې امتیازي اقدام دی، چې زموږ په زمانه کې په هیڅ بله ډله کې نشته. موږ له الله تعالی څخه دعا کوو چې دا کار یوازې د خپلې رضا لپاره له موږ څخه قبول کړي.

په پای کې، زه دوه پیغامونه ورکول غواړم:

---

[5] د «القاعده» په فکر او منهج کې دا خبره ډېره واضحه ده. «القاعده» د خپل ځان لپاره هیڅکله دا نه غواړي، چې د امت قیادت وکړي، بلکې ځان د امت یوه ډله گڼي. د «القاعده» منهج دادی، چې په امت کې وحدت قائمول په کار دي او د حاکم انتخاب باید د مسلمانانو په مشوره سره وشي. نو داسې اتحاد چې د الله تعالی دښمن او د غرب نازولی سیکولر او لیبرال خلک هم برابره برخه لري، دا خو نه د امت اتحاد دی او نه د مسلمانانو مشوره ده، بلکې د غرب ایجنډا ده.

همدا راز دا هم بالکل واضحه ده، چې «القاعده» د هغه حاکم پر وړاندې نه لاس په کار کېږي، چې شریعت نافذ کړي. موږ داسې حاکم شرعي ولي الامر نه منو، چې شریعت نه نافذوي او سیکولر قوانین او سیکولر نظام پلی کوي. په یاد ولرئ، چې د بشار د حکومت له سقوط وروسته «القاعده» د «حراس الدین» تنظیم تحلیل کړ، خو په شامي ځمکه کې یې د خپل حضور پای ته رسولو اعلان نه دی کړی، په شام کې د اسلامي حکومت د قائمولو دعوت نن هم ورکوي، په داسې حال کې چې د صهیوني صلیبي دښمن پر وړندې د صف پر تړلو باندې زور کوي. (اداره)

## [القاعده د اتحاد په لاره کې خنډ نه دی]

لومړی پیغام د شام په ساحه کې د شته ټولو مسلمانانو په نوم دی. زه هغوی ته وایم:

د امریکا لخوا پر خپرو شوو دغو دروغو او پروپاګندونو باندې یقین مه کوئ، چې ګواکې «القاعده» د شام د ټولو مصیبتونو سبب دی او له شام څخه ددې ایستل د ټولو ستونزو د حل کیلي ده.

آیا څینو خلکو ته دا نه وو ویل شوي چې له «القاعده» څخه جلا شئ، بمباري به ودرول شي؟ آیا بمباري ودرول شوه؟

هغوی ته وویل شول، چې له القاعده څخه لیرې شئ، ترڅو دهشت ګرد ونه بلل شئ، نو آیا دهشت ګرد ونه ګڼل شول؟

هغوی ته وویل شول، چې له «القاعده» څخه جلا شئ، اتحاد به قائم شي، آیا اتحاد قائم شو؟

زما د شام مسلمانو مجاهدینو ورونو! د اتحاد په لړ کې له رامنځته شوو اختلافاتو، جګړو او خپل منځي شخړو سره د «القاعده» هیڅ تړاو نشته.

کوم خلک چې اتحاد نه غواړي، تاسې هغوی په خپله ډېر ښه پیژنئ، له همدې امله په هغوی باندې پړه واچوئ. هغه معامله چې په یوه دقیقه کې حل کېدای شي، دوی یې تر لسیزو ځنډولو ته تیار دي، په دې کې د «القاعده» څه ګناه ده؟

«القاعده» خو هغوی ته وایي چې متحد شئ؛ د شام خلک دې د ځان لپاره یو امام وټاکي او «القاعده» به تر ټولو لومړی د هغه تائید او ملاتړ وکړي، خو بیا هم دوی ولې متحد کېږي نه؟

## [په شام کې د القاعده مثبت رول او پر وړاندې یې سازش]

زما دوهم پیغام زموږ د سرونو تاجونو، د شام د بهادرو او مخلصو مجاهدینو په نوم دی. زه هغوی ته وایم: الله تعالی فرمایي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ۝ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ ۖ وَاصْبِرُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ [الأنفال: ٤٥-٤٦]

«اې د ایمان خاوندانو! کله چې تاسې له کومې ډلې سره مخامخ شئ، نو ثابت قدمه اوسئ، او د الله ذکر په کثرت سره کوئ، ترڅو بریا ترلاسه کړئ. او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ، او په خپلو منځونو کې شخړې مه کوئ، ګنې کمزوري به شئ او ستاسې رعب به له منځه لاړ شي او صبر کوئ، بې شکه الله د صبر کوونکو سره دی».

آیا د عهد په ماتولو کې د الله او د هغه د رسول اطاعت شته؟ او آیا خپل منځي شخړې ستاسې لپاره د بریا او نصرت سبب ګرځي که ستاسې د ناکامۍ او د پښو د ښوېدو لامل کېږي؟

موږ نادرې خبرې اورو. یو ورور وایي: «شیخ ابو فلان موږ ته فتوا راکړې ده چې هر هغه شخص چې د «القاعده» لور ته دعوت کوي، هغه دې ونیول شي».

ای ابو فلانه! ته هغه وخت چېرته وې، چې په شام کې «القاعده» ته د مرستې فریاد کېده او د هغې پر نامه بیعتونه اخیستل کېدل؟ آیا الله سبحانه وتعالی په شام کې «ابراهیم البدري» ته د ماتې ورکولو، د هغه د دجل او فریب او درواغجن پروپاګند پر وړاندې د مقابله کولو لپاره «القاعده» له تر ټولو سترو سببونو څخه یو سبب ونه ګرځاوه؟ آیا «القاعده» دا حقیقت نه و څرګند کړی چې د شیخ ابو خالد السوري رَحِمَهُ ٱللَّهُ قاتلان د نویو تکفیریانو (یعني داعشیانو) له ډلې څخه دي؟

آیا دا «القاعده» نه وه چې «ابراهیم البدري» او د هغه ډله یې له خپل جماعت څخه وباسل؟ آیا د دلائلو او مستنداتو په وسیله یې د هغوی درواغ، دجل او بهتان بې نقابه نکړ؟ او آیا د دوی له تش په نامه «خلافت» څخه یې شرعي جواز وانه خیست؟

که خدای مکړه د «البدري» په وړاندې «القاعده» سستي ښکاره کړې وای، یا د حق خبرې له واضحولو څخه شاته پاتې شوې وای، نو «البدري» به جبهة النصرة له منځه وړې وه او که هغه جبهة النصرة له منځه وړې وای، نو نن به په شام کې د هغې نوم او نښان نه و پاتې، نور خو علم غیب یوازې له الله سره دی. خو همدا «القاعده» وه، چې د دوی په ستوني کې اغزی وګرځېده او په کې بنده شوه او همدې «القاعدې» شرعي حیثیت ورڅخه واخیست، ځکه نو هغوی د سختې دښمنۍ له امله د خپلو لښکرو مخ د «القاعده» په لور را وګرځاوه.

کله چې د «القاعده» مشرتابه د داعش او جبهة النصرة ترمنځ د نزاع په اړه پرېکړه صادره کړه، نو شام له خوشحالۍ څخه لبریز شو. په دغه وخت کې شیخ جولاني – الله تعالی دې توفیق ورکړي - موږ ته پیغام را ولېږی، چې دا یوه تاریخي فیصله ده. نو اوس داسې څه وشول، چې هغه فیصله

يوازې د تاريخ برخه پاتې شوه؟

## [د فک الارتباط فتنه او د هغې لپاره درواغجن تأويلات]

کله چې «البدري» او د هغه فريبکاره ملگرو د خپلو باطلو دعوو له لارې په شام کې د مجاهدينو اتحاد په خطر کې اچاوه، نو سمدستي له القاعده سره بيعتونه پيل شول او له مختلفو لورو څخه پر موږ باندې د پيغامونو باران پيل شو، چې شام وژغورئ، خو کله چې د «البدري» خطر له منځه لاړ، نو په دغه وخت کې ځينې داسې نوي او جعلي معلومات او تأويلات راڅرگند شول، لکه **فک ارتباط، ربط احتکاک او فرط ارتباط**.

که څه هم زموږ محترم او مخلص ورور شيخ عبدالرحيم عطون د شيخ طرطوسي په ځواب کې او همداراز له **ايحاءات جهادية** مجلې سره په خبرو کې دا واضحه کړه، چې د دوی او «القاعده» په منځ کې يوازې تنظيمي تړاو نه بلکې بيعت دی.

بيا د بېلابېلو تأويلاتو لړۍ پيل شوه؛ د شام د خلکو د مصلحت، د بمباريو بندېدل، د تروريستانو په ليست کې له شاملېدو ځان ژغورل، په شام کې د مجاهدينو اتحاد او د اهل السنة پلان ... بيا بيا د اهل السنة د پلان خبره کېږي، خو آيا دا رښتيا هم د اهل السنة پلان دی، که پخپله د اهل السنة په منځ کې د جگړې پلان دی[6]؟

له يوه کال څخه د ډېر وخت لپاره زموږ او زموږ د ورونو ترمنځ د خطونو، پيغامونو او اړيکو لړۍ

---

[6] دا خبره بايد واضحه وي، چې تر هر څه وړاندې د اسلام او مسلمانانو د شريعت احکام دي، خو زموږ اوسنۍ غميزه داده، چې موږ د خپلو نفساني خواهشاتو او خپلو ذاتي اغراضو لپاره له شريعت څخه دلائل تراشو، بالکل داسې لکه گمراه ډلې چې د خپلو گمراه عقايد لپاره له قران کريم او سنتو څخه دلائل بيانوي. په جهاد کې هم همدا خبره ده، چې موږ د يو عهد په ماتولو او د مسلمان په روح اخيستلو کې هم يوه بهانه جوړوو، خو موږ د هغې له وبال څخه نه په دنيا کې خلاصېدای شو او نه په آخرت کې. وحدت او اتحاد يقينا د اسلام حکم دی، خو د هغه لپاره د نورو مخلصو مسلمانانو قتلول د خپلې بريا او غلبې لار ضرور ده، خو د وحدت قائمولو لار نه ده. دا په شام کې وشول، چې د اتحاد په نوم د اهل السنة تر منځ کورنۍ جگړې شروع شوې او مسلمانان د کفارو په مقابله کې ضعيف شول. بيا ددې ضعف نتيجه دا شوه، چې غربي قوتونو مجاهدين د خپل هدف لپاره استعمال کړ. او نن هغه شامي حکومت په داسې ځای کې ولاړ دی، چې په کومه ورځ غربي طاقتونه انکار وکړي، حکومت يې له منځه ځي او که يې خبره مني نو کله به هم د اسلام احکام نافذ نه شي کړای. (اداره)

روانه وه. موږ په پرله پسې توګه هغوی ته دا نصیحت کاوه چې: «اې زموږ محترمو ورونو! یا د شام مجاهدین سره متحد کړئ، یا د خپل اصلي جماعت په لور راشئ»، خو په ځواب کې یوازې تأویلات او عذرونه وړاندې شول او مرکب اعتراضات راپورته کړل شول، چې آیا تاسې غواړئ چې پر شام باندې بمباری وي؟ آیا تاسې د اتحاد لار بندول غواړئ؟

## [د امت په کچه ستر اتحاد]

ای زما ورونو! د الله تعالی په فضل او احسان سره تاسې تر دې هم د لوی اتحاد برخه یاست، کوم چې تاسې یې قائمول غواړئ. تاسې د تنظیم قاعدة الجهاد په جهاد کې شامل یاست، هغه تنظیم چې له اسلامي امارت سره یې بیعت کړی دی او د یوې پراخې جهادي اجتماع برخه ده.

خو ځواب راځي، چې «نه» «القاعده» یو داسې پلان دی، چې زمانه یې تېره شوې ده او اوس تر وخت تېر شوی دی، نن د امت د جهاد دور دی، د تنظیمونو دور نه دی، په داسې حال کې چې دوی خپله په تنظیمي کشمکش کې غرق دي. بیا ویل کېږي، چې «القاعده» موږ ته مصیبتونه راوړي او د شام د خلکو مصلحت چېرته دی؟

اې ورونو! موږ تاسې کله مجبوره یا بې وسه کړي یاست؟ موږ تاسې کله په چاقو یا مرمۍ باندې ډارولي یاست؟ که چېرې نن د ویرې، اضطراب او هنګامي وضعیت په دغه محدود ازمېښت کې زموږ ترمنځ دغه حال دی، نو له واک تر لاسه کولو وروسته به موږ یو له بل سره څنګه چلند کوو؟

موږ له هیچا څخه نه بدله اخلو او نه د منني تمه ورڅخه کوو، خو موږ وینو چې زموږ ورونه پر موږ ښکاره ظلم کوي.

على المرء من وقع الحسام المهند

وظلم ذوي القربى أشد مضاضة

«پر انسان باندې د خپلو ظلم، د تېزې او تېرې تورې تر وار هم خورا زیات دردونکی او سخت وي».

اې شیخ ابوفلانه! آیا د نعمت شکر همدادی چې الله تعالی موږ له ظالم او جابر «ابراهیم البدري» له شر څخه خلاص کړو، نو اوس موږ داسې طریقه اختیار کړو، چې له امله یې له موږ څخه دا نعمت واخیستل شي او الله تعالی موږ د یوه بل ظالم او جابر په وسیله په امتحان کې واچوي؟

## [د مجاهدينو په منځ کې مينه او وروروليِ، نه اخطارونه، ګواښونه او خپلمنځي شخړې]

اې شيخ ابو فلانه! هغه «القاعده» چې نن يې ته دعوت کونکو ته د نيولو اخطارونه ورکوې، دا هغه «القاعده» ده، چې له دې سره پر پيوستون باندې به زموږ محبوب شيخ ابو خالد السوري تل ټينګار کاوه.

هغه په جمادى الثاني ۱۴۳۴ هجري قمري کې ما ته يو ليک ليږلی و، چې د هغه په پای کې دا ښکلي او مبارک کلمات درج وو:

«محترم شيخ! تاسې ډاډه اوسئ چې زما په افکارو، منهج او مقصد کې هيڅ ډول بدلون نه دی راغلی او نه مې خپله لاره بدله کړې ده. زموږ په منځ کې کومه مينه او محبت چې و، هغه نن هم په هماغه ډول شتون لري، بلکه په هغه کې د وخت په تېرېدو سره نور هم زياتوالی راغلی دی. زه د تل په څېر ستاسې د خير غوښتونکی او د زړه له کومې مينه لرونکی ورور يم، لکه څنګه چې تاسې ماته له پخوا څخه پېژنئ».

هغه په خپل ليک کې وړاندې داسې ليکلي وو:

> «په پای کې، زه له الله تعالی څخه دعا کوم چې ستاسې په واسطه اسلام ته عزت او لوړوالی وروبښي او اسلام ستاسې په وسيله سربلند کړي. تاسې د مسلمانانو لپاره يوه لويه او ارزښتمنه سرمايه وګرځوي او حفاظت مو وکړي او موږ په غوطه او دمشق کې پر خپل اطاعت او د هغه په حکم باندې د فاتحينو په حيث را يوځای کړي».

الله تعالی دې پر شيخ ابو خالد باندې خپل رحم وکړي.

هغه ماته دا نه و ويلي، چې: «که ته شام ته راشې، نو يا به زموږ تر امارت لاندې ژوند کوې او يا به بندي کېږې!»

هغه ماته دا خبره هم نه وه کړې، چې: «موږ تاسې ته د کوم نوي جماعت جوړولو اجازه نه درکوو». سبحان الله! آيا په شام کې «القاعده» اوس نوی جماعت شو؟

بیا زموږ په منځ کې هغه مینه او محبت چېرته لاړ؟ د هغه په ځای ولې د سختی، کینې، جګړو، خپلمنځي شخړو او د زړونو د ماتېدو فضا رامنځته شوه؟ د وروڼو د جلا والي، د هغوی د بهر شړلو او پر دوی باندې د بندیزونو لګولو هڅې ولې پیل شوې؟

آیا دا د فتحې او نصرت اسباب دي، که د ماتې او ناکامی تمهید؟

## [له شام څخه د القاعده ایستل، د وروستي شامي مجاهد د له منځه وړلو وروستی پلان]

له شام څخه د «القاعده» ایستلو پلان په حقیقت کې له شام څخه د وروستي شامي مجاهد د ایستلو په خاطر جوړ شوی دی.

دا خبره زه یو ځل بیا تکراروم، دا ښه واورئ: له شام څخه د القاعده د ایستلو پلان په اصل کې له شام څخه د وروستي شامي مجاهد د ایستلو پلان دی.

د مصر د ولسمشر محمد مرسي برخلیک د عبرت د هر خاوند د لپاره یو درس دی، په داسې حال کې چې د جبري بې ځایه کولو لړی هم په دغه وخت کې په شدت سره روانه وه.

ای فتوا ورکوونکیه! آیا تا له ما سره یوځای شیخ ابو خالد السوري رحمة الله علیه هم بندي کاوه، د دې لپاره چې هغه د فکر، منهج او مقصد په لحاظ د «القاعده» پر منهج باندې ثابت قدم و؟

اې ابو خالده! الله دې پر تا رحم وکړي، موږ ستا کمښت په شدت سره احساس کړی دی.

خبره یوازې د نارینه وو تر نیولو پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې صبر کوونکې او ثابت قدمه مهاجرې مېرمنې هم بندي کېږي او د هغوی له ماشومانو څخه پوښتنې ګروېږنې کېږي.

موږ ولې دې ټیټوالي ته ورسېدو؟ آیا دا وضعیت د دې مستحق نه دی چې غور پرې وشي؟ بلکې په پوره سنجیدګی سره د بیا بیا ارزونې غوښتنه نه کوي؟

## [د بيعت ماتول حرام دي، په داسې حال کې چې د شام په جهاد کې د بيعت ماتول عام دي]

يو بل کس وايي: «شيخ فلان او شيخ ابو فلان موږ ته له «القاعده» سره د بيعت ماتولو فتوا راکړې ده». اې محترمه وروره! بيا د قيامت په ورځ هغوی دواړه راوبوله، ترڅو ستا په ځای د دې بيعت پېټی پر خپلو اوږو واخلي، په هغه ورځ چې د هر عهد ماتونکي لپاره به يو بيرغ پورته کېږي؛ آيا هغوی به په هغه ورځ ستا له لوري ځواب ورکونکي وي؟

الله تعالی فرمايي:

لِكُلِّ امْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ [عبس:٣٧]

«په دغه ورځ به له دوی څخه د هر سړي داسې حال وي چې هغه به (له نورو څخه) بې پروا کوي».

آيا تا د «البدري» او د هغه د ډلې په دغه خاطر غندنه نه کوله، چې هغوی هيڅ شرعي حيثيت نه لري، ځکه هغوی له «القاعده» سره بيعت مات کړی دی؟ نو بيا څنګه هغه شی چې د نورو لپاره يې حرام ګڼې، خپل ځان ته يې روا او حلال بولې؟

أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ [البقرة:٤٤]

«آيا تاسې خلکو ته د نېکۍ حکم کوئ او خپل ځانونه هېروئ؟»

دا معامله يوازې تر يوې ډلې پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې په شام کې د بيعتونو حالت د ريل ګاډي د سټېشن په څېر شوی دی؛ ځيني مسافر را روان دي، ځيني روانېدونکي دي، ځيني يوازې تېرېږي، ځيني خدای پاماني کوي او ځينې بيا د نويو راغلو کسانو هرکلی کوي. ځينې کارکوونکي له کاره لاس په سر شوي دي او ځينې نندارچيان په حيرت او سرګردانۍ کې ولاړ دي.

زما ورونو! بيعت يو شرعي تړون دی او د شريعت د اوامرو او نواهيو احترام کول د دين له بنسټيزو اصولو څخه دي.

الله تعالی فرمايي:

ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللَّهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَّهُ عِندَ رَبِّهِ [الحج:٣٠]

«دا ټولې خبرې یاد ولرئ، دی او هر څوک چې د الله د حرمتونو تعظیم وکړي، نو دا د هغه د پروردګار په وړاندې د هغه لپاره غوره ده».

او الله عزوجل فرمايي:

ذَٰلِكَ وَمَن يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللَّهِ فَإِنَّهَا مِن تَقْوَى الْقُلُوبِ [الحج: ٣٢]

«دا (حکم) دی او هر څوک چې د الله د شعائرو تعظیم وکړي، نو بې شکه دا د زړونو له تقوا څخه ده».

همدارنګه الله تعالی فرمايي:

فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ [النور: ٦٣]

«نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه د امر مخالفت کوي، چې هسې نه کومه فتنه ورته ورسيږي او يا کوم دردناک عذاب ورته ورسېږي».

## [د شريعت له احکامو څخه د مخ اړولو نحوست]

ای زما ورونو، زما بچيانو او زما د سر تاج، د شام مجاهدينو!

له دغه تغييراتو او لوړو او ژورو څخه مخکې پر خپل حال باندې نظر واچوئ. په ډېر لنډ وخت کې ښارونه او ولايتونه فتحه شول، دښمن مات شو، تاسې ستر غنيمتونه ترلاسه کړل، ستاسې دښمن ستاسې له بيرغونو څخه ووېرېد،او الله تعالی زموږ مرسته وکړه. بيا د دغو بدلونونو او اوښتونونو څخه وروسته حالت ته وګورئ، په ځانګړې توګه هغه وخت چې د امريکا ويرې ستاسې په زړونو کې سرايت وکړ. د الله تعالی دغه فرمان در ياد کړئ:

وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ اللَّهُ وَعْدَهُ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّن بَعْدِ مَا أَرَاكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ الدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ الْآخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَاللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ [آل عمران: ١٥٢]

«او يقينا الله له تاسې سره خپله وعده رښتيا کړه کله چې تاسې د هغه په حکم دښمنان وژل، تر هغه چې تاسې سستي وکړه او د کار په باره کې مو په خپلو منځونو کې اختلاف وکړ او کله چې الله تاسې ته هغه شی وښود چې ستاسې خوښېده، نو تاسې نافرماني وکړه (د امير امر مو مات کړ). په تاسې کې ځينې داسې وو چې دنيا يې غوښته او ځينې داسې وو چې اخرت يې غوښت. بيا الله تاسې له هغوی (کفارو) څخه وګرځولئ، ترڅو تاسې وازمايي. او يقينا هغه تاسې وبښلئ، او الله پر مؤمنانو

باندې د لوی فضل خاوند دی».

ای الله! موږ وبښه، په خپل فضل موږ ته رزق را په برخه کړه او زموږ د اعمالو په سبب مو مه نیسه.

امام بخاري رحمه الله یو باب قائم کړی دی: «تر قتال مخکې نېک عمل» بیا هغوی له سیدنا ابو درداء رضي الله عنه څخه دا قول نقل کړی دی: «إِنَّمَا تُقَاتِلُونَ بِأَعْمَالِكُمْ[٧]».

«تاسې د خپلو اعمالو په زور جګړه کوئ».

او شیخ فلان وایي: «موږ په هیڅ صورت د نوې ډلې جوړولو ته اجازه نه ورکوو».

په داسې حال کې چې د دغه شیخ امیر او استاد شیخ ابو خالد السوري رحمة الله علیه و، کله چې ما د داعش او جبهة النصرة ترمنځ د پیدا شوي کړکیچ په وخت کې هغه د «القاعده» د استازي په توګه مقرر کړ. د هغې «القاعدې»، چې اوس دغو خلکو ورته داسې ډله ویلې چې د شتون اجازه نشي ورکول کېدای. په داسې حال کې چې شیخ ابو خالد السوري رحمة الله علیه ما له مینې او اخلاص څخه ډک یو خط لیکلی و، چې په هغه کې درج وو:

«زما د محبوب شیخ ابو الفتح په نوم: الله تعالی دې ستا ساتنه او نګهباني وکړي.

له څو کلونو ستونزو او سختو ورځو وروسته هیڅ شي زما زړه ته داسې تسلي او خوښي ونه بښله، لکه څومره چې ستا د ګران خط په ترلاسه کولو سره زما په برخه شوه».

هغه وړاندې لیکلي وو:

«که تاسې زه د «الدولة الاسلامیة عراق» او «جبهة النصرة« ترمنځ د رامنځته شوي کړکېچ د هواري لپاره د منځګړي په توګه غوره کړی یم، نو زه له الله تعالی څخه دعا کوم چې ستاسې لپاره یو نېک، مخلص، راز ساتونکی او داسې رهنما ثابت شم چې خپل قوم ته درواغ نه وایي».

بیا داسې څه بدل شول؟ او دا بدلون ولې راغی؟

[٧] صحیح البخاري، کتاب الجهاد والسیر، باب عمل صالح قبل القتال

## [موږ د ملا محمد عمر مجاهد او ملا اختر منصور د درسگاه روزل شوي يو، کوم چې د وفا او لوړو اخلاقو درس ورکوي]

يو بل محترم شيخ په يو عام غونډه کې ولاړ دی او وينا کوي: «القاعده ختمه شوه، القاعده هېره کړئ». سبحان الله! گرانه وروره! ته هم زما په څېر يو بې وسه، تر تعقيب لاندې او مطلوب سړی يې. مصيبتونه آخر ټول غمځپلي سره يو ځای کوي.

آيا ته به دا خوښه کړې چې «القاعده» ستا په اړه ووايي: «د فلاني دوره ختمه شوه، اوس هغه هېر کړئ؟» ان شاء الله، موږ داسې کله هم نه وايو. ای گرانه! آيا ته نه پوهېږې؟

ځکه چې موږ د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله او ملا اختر منصور رحمه الله د مدرسې روزل شوي يو، يعني د اسلامي امارت د مدرسې؛ کومه درس چې د وفادارۍ، لوړو اخلاقو، د پناه اخيستونکي د ساتلو او د همدې هدف لپاره د خپل ځان او دنيا قربانولو درس ورکوي.

دا هغه مدرسه ده چې زموږ د سردار کعب بن زهير رضي الله عنه دا اشعار ورباندې صادق راځي:

وَإِذَا نَزَلْتَ لِيَمْنَعُوكَ إِلَيْهِمُ

أَصْبَحْتَ عِنْدَ مَعَاقِلِ الْأَغْفَارِ

«کله چې ته د هغوی په پناه ته ورشې تر څو هغوی ستا ساتنه وکړي، نو ته به خپل ځان په مضبوطو او خوندي کلاگانو کې دننه ومومې».

نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي:

«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يَخْذُلُهُ وَلَا يَحْقِرُهُ».

«مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پر هغه ظلم کوي، نه هغه يوازې پرېږدي او نه ورته په کمه سترگه گوري»[8].

او د امام بخاري رحمه الله په روايت کې دي:

[8] صحيح مسلم (۲۵۶۴)

«الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ وَلَا يُسْلِمُهُ».

«مسلمان د مسلمان ورور دی، نه پر هغه ظلم کوي او نه يې دښمن ته سپاري»[٩].

## [زموږ د اخلاقو او زموږ د مخالفينو د اخلاقو پرتله، د مقنع کندي د اشعارو په ژبه]

وَإِنَّ الَّذِي بَيْنِي وَبَيْنَ بَنِي أَبِي * وَبَيْنَ بَنِي عَمِّي لَمُخْتَلِفٌ جِدًّا

«زما او زما د ورونو ترمنځ او زما او زما د تره د زامنو ترمنځ په چلند کې خورا لوی توپير دی».

أَرَاهُمْ إِلَى نَصْرِي بِطَاءً، وَإِنْ هُمُ * دَعَوْنِي إِلَى نَصْرٍ أَتَيْتُهُمُ شَدًّا

«زه هغوی وينم چې زما په مرسته کې سستي کوي؛ خو کله چې هغوی ما د ځان د مرستې لپاره وبولي، نو زه په پوره سرعت سره هغوی ته ورځم».

فَإِنْ يَأْكُلُوا لَحْمِي وَفَّرْتُ لُحُومَهُمْ * وَإِنْ يهدِمُوا مَجْدِي بَنَيْتُ لَهُمْ مَجْدًا

«که هغوی زما غيبت وکړي او زما غوښې وخوري، نو زه د هغوی د ابرو او عزت ساتنه کوم؛ او که هغوی زما د عزت مانۍ ونړوي، نو زه د هغوی لپاره د عزت او عظمت ودانۍ جوړوم».

وَإِنْ بادهوُنِي بِالْعَدَاوَةِ لَمْ أَكُنْ * أُبَادِهُهُمْ إِلَّا بِمَا يَنْعَتُ الرُّشْدَا

«که هغوی له ما سره په دښمنۍ کې مخکې شي، نو زه بيا هم د هغوی په وړاندې داسې لاره غوره کوم چې له عقل او هدايت سره سمه وي».

وَإِنْ قَطَعُوا مِنِّي الْأَوَاصِرَ ضِلَّةً * وَصَلْتُ لَهُمْ مِنِّي الْمَحَبَّةَ وَالْوُدَّا

«او که هغوی په غلطۍ کې واقع شي او له ما سره تړلې اړيکې پرې کړي، نو زه بيا هم له هغوی سره له خپلې خوا د محبت او دوستۍ اړيکه ساتم».

که زموږ وروڼه زموږ احسانات او زموږ ترونونه هېر کړي، نو موږ يې په بدل کې هيځکله داسې نه کوو، بلکې موږ د دوی د احساناتو، نيکيو او ورکړو اعتراف کوو او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړو، چې هغه زموږ او د دوی اعمال قبول کړي. په دې اړه ددې قصيدې وروستي هم ستاسې

[٩] صحيح البخاري (٢٤٤٢) (٦٩٥١)

خدمت ته وړاندې کوم:

عَلَى أَنَّ قَوْمِي مَا تَرَى عَيْنُ نَاظِرٍ * كَشَيبِهِمْ شَيْبًا وَلَا مُرْدِهِمْ مُرْدَا

«زما قوم سپین ږیري او ځوانان هیڅ لیدونکې سترګې نه دي لیدلي»

بِفَضْلٍ وَأَحْلَامٍ وَجُودٍ وَسُؤْدَدٍ * وَقَوْمِي رَبِيعٌ فِي الزَّمَانِ إِذَا اشْتَدَّا

«دوی د فضیلت، هوښیارۍ، سخاوت او سردارۍ پیکرونه دي او کله چې زمانه سخته شي، نو زما قوم د بهار په څېر وي».

## [خپلمنځي قتل او قتال]

معامله یوازې د القاعده د احساناتو تر هېرولو پورې محدوده پاتې نه شوه، بلکې د شام د جهاد میدان د خپلمنځي نزاع او شخړو داسې ځنګل جوړ شوی دی، چې په هغه کې هره ډله پر یو بل تورونه پورې کوي، د یو بل پر ضد د فتواوو وسله کاروي او هر څوک د خپل مخالف له فتواګانو څخه په داسې وېره کې دی لکه د کوم دښمن له لښکر څخه چې وي.

عهدونه او تړونونه لا شوي نه وي، بیرته ماتېږي، د ګټو په مېدان کې له ژمنو څخه سرغړونه یو عام کار ګرځېدلی دی. یو څوک د اتحاد پر معاهده لاسلیک کوي او په بله ورځ له هغې څخه مخ اړوي. بل وايي: «زه پر خپل بیعت ولاړ یم، خو په پټه توګه» او له یو څه وخت وروسته له هغه څخه هم لاس په سر کېږي. یو څوک په یوه نوې تنظیمي ډله کې شاملېږي او بیا له هغې څخه بېلېږي او په دې توګه خپلمنځي جګړو او نښتو ته لاره هوارېږي.

د جګړې اصلي لوری ورک شوی دی. موږ دا بنسټیز حقیقت هېر کړی دی چې زموږ دا جنګ یو «دفاعي جهاد» دی، په کوم کې چې د کفایت ترلاسه کولو تر حده له هر مسلمان سره په ګډه جهاد کېږي، خو اوس داسې حالت رامنځته شوی چې هر څوک د بل پر وړاندې په جګړه اخته دی او په شام کې د ا«هل السنة پلان» په خپله «د اهل السنة تر منځ د جنګ پلان جوړ شوی دی». هغه څوک چې تر پرون پورې نژدې دوست او په جهاد کې ملګری و، هغه یوازې له موږ څخه د جلا کېدو په خاطر داسې سرکشه دښمن ګرځېدلی دی، چې له منځه وړل یې خورا اړین بلل کېږي. په دې توګه د جګړې اور په پوره شدت سره بل شوی دی، خو موږ د الله تعالی په فضل سره موږ له

دغه ناوړه حالت څخه بري يو.

اې زموږ محترمو ورونيو، زموږ دوستانو او زموږ د سر تاج، د شام مجاهدينو! ستاسې خپلمنځي اختلافاتو او جګړو په بيت المقدس، لبنان، عراق، مصر او اردن کې د اوسېدونکو مسلمانانو زړونه مات کړي دي. هغوی تاسې د خپل نجات را پارېدلی اميد او د خپلې آزادۍ او عزت روښانه سهار ګڼلي وئ!

اې زموږ ورونيو او زموږ د سر تاج، د شام مجاهدينو! موږ ته د خپلو اختلافاتو دفن کولو، خپلمنځي جګړو ختمولو او له ټول امت سره يوځای په شام کې د اشغالګرانو او شيطاني اتحاد مخه نيولو ضروت دی. دا يو «دفاعي جهاد» دی، آيا موږ دا حقيقت هېر کړی دی؟

## [ولې شام د امت مسلمه له ستونزو څخه بې تړاوه کېږي؟]

دا خبره يوازې تر شام پورې محدوده نه ده، بلکې د شام د جهاد ډګر په تدريجي ډول د ټول امت مسلمه له دردونو او قضاياوو څخه جلا کېږي. په جزيرة العرب کې آل سعود يوازې په دوو يا دريو ورځو کې د دعوت او جهاد څلورڅلوېښت مشهور شخصيات وژني، خو د شام د هيڅ جهادي ډلې له خوا په دې اړه د غندنې يو لفظ هم ونه ويل شو.

دا بې غوري او شاته تګ ولې[10]؟ آيا دوی په دې هڅه کې دي، چې امريکا او سعودي عرب له

[10] دا هم يوه لويه فتنه ده، چې نن مجاهدين ورسره مخ دي، که د ټول امت نوم اخلي، نو ټول غربي ځواکونه يې دښمنان ګرځي. نو دوی په خپل ګمان کې د دښمنانو کمولو لپاره خپل جهاد «نيشنلايز» کوي. خو معامله دلته پای ته نه رسېږي، دوی داسې څرګندوي، چې په يوه خاصه سيمه کې د يوه سيمه ييز دښمن پر وړاندې جنګېږي، بلکې دوی له دې وروسته د غربي قوتونو پر ظلمونو هم چوپتيا غوره کوي او د امت د مظلومانو له مرستې څخه لاس اخلي. له دې وروسته هغوی په دې مسير باندې نور هم وړاندې ځي، د دښمنانو د سازشونو ښکار ګرځي او له نړيوالو ځواکونو او د هغو له حاشيه نشينو منافقينو څخه د مرستې غوښتونکي هم شي او د هغو مجاهدينو پر وړاندې هم صفونه تياروي، چې په ټوله نړۍ کې د جهاد بېرغ پورته کوي او له هر مظلوم سره درېږي. خپل ځان تر يوې خاصې سيمې پورې په جهاد کې مشغول ساتل، په دې کې هيڅ قباحت نشته، خو دا پورته ذکذ شوی صورت يقينا يوه فتنه ده. کومه ډله چې په دې کې مبتلا وي، نو هغه بالاخره د نړيوالو ځواکونو په لاس خپل زحمت ضائع کوي يا د هغوی غلام جوړېږي. والعياذ بالله.

اسلامي امارت زموږ د سر تاج دی، هغوی په يوه خاصه سيمه کې جهاد وکړ، خو د يوې ثانيې لپاره يې هم د شريعت له حکم

دوی سره داسې دښمني ونه کړي، لکه له «القاعده» سره چې يې کوي؟ آخر دا امريکا او سعودي عرب له «القاعده» سره ولې دښمني کوي؟ ځکه چې القاعده د مسلمه امت د حقونو دفاع کوي، غلامان او خائنان رسوا کوي او په عام محضر کې اعلان کوي، چې د جزيرة العرب واکمنان او د خليج د هېوادونو رئيسان غله دي، کوم چې د مسلمانانو شتمنۍ لوټي او بيا يې د هغوی د دښمنانو په واک کې ورکوي؟ شيخ اسامه بن لادن رحمه الله دا لوټماري د بشري تاريخ تر ټولو لويه لوټماري بللې وه. دا شتمنۍ د هغو حاکمانو لخوا لوټل کېږي چې ځانونه يې د امريکا د حکومت ذليله او فرمانبرداره کارمندانو تبديل کړي دي.

له همدې امله امريکا له شيخ اسامه بن لادن رحمه الله څخه خامخا کرکه کوي، آيا له چا څخه چې امريکا نفرت کوي، موږ له هم له هغه څخه نفرت وکړو؟ که څه هم امريکا پر موږ بمونه را اوروي، موږ تباه کوي، زموږ ښارونه بربادوي او پر موږ باندې علوي ډله، يا د سيسي يا حفتر په څېر بل غلام مسلط کړي؟

مصلحت خوښوونکي او له اصولو څخه د لاس اخيستلو لارښوونکي وايي:« القاعده ټوله نړۍ خپل دښمن ګرځولې ده، په داسې حال کې چې موږ خپله مسئله يوازې تر شام پورې محدودول غواړو». اې د مصلحت پر نوم د اصولو قربانونکو! «القاعده» د امت، د هغه د دين، د هغه د عزت او د هغه د وسائلو دفاع کړې ده.

اې مصلحت خوښوونکو تحليل ګرانو! آيا تاسې له خپلو ځانونو څخه دا پوښتنه نه کوئ، چې ټوله نړۍ ولې د شام پر ضد سره را يو ځای شوه؟ که د شام جهاد يوازې يوه محدوده او جلا مسئله وای، نو آيا دا پوځونه، اتحاد او حکومتونه په شام کې د مسلمه امت ددې وينبتابه پر وړاندې سره را ټولېدل؟ د شام مسئله د فيليپين د ټاکنو يا په اوکراين کې د يو واکمن د غوره کولو په څېر کومه وړه او عادي مسئله نه ده.

شام د اسلام او د هغه د دښمنانو تر منځ د يوه نړيوال جنګ ميدان دی. په حقيقت کې دا د صليبي

---

څخه تنازل ونه کړ، کله يې هم له يوه مسلمان سره اړيکې پرې نه کړې، بلکې د يوه مسلمان لپاره يې خپل ټول حکومت قربان کړ، په خپل دغه جهاد کې يې په افغانستان کې هيڅ کافر ته خونديتوب نه دی ورکړی او نه يې هم بهر د کوم کفري قوت د راضي کولو کوشش کړی دی. الله تعالی دې موږ ته د اسلامي امارت د نصرت توفيق راکړي، آمين (اداره)

جگړو اوسنۍ کړۍ ده. دا هغه حقیقت دی چې د تفرقې نظریه جوړونکې سترګې ورباندې بندې شوې ده، که څه هم دوی ددې لومړني قربانیان دي.

همدا ډول زموږ د محترم مشر شیخ عمر عبدالرحمن رحمه الله وفات و. هغه یو جلیل القدر، سر بلند، مجاهد او صابر عالم و، چې په خپل دین باندې یې ناز کاوه او دداسې ستر قامت انسان و، چې کله یې هم سر ټیټول نه کړل زده. هغه په دریو بندیخانو ... نابینایي، ناروغي او زندان ... کې بندي پاتې شو. هغه زموږ مجاهد شیخ و، خو زما د علم مطابق د شام هیڅ جهادي تنظیم یې پر وفات باندې د تعزیت یوه کلمه هم ونه ویله. که زه په غلطه یم زما اصلاح وکړئ!

آیا دا د پیغور خبره نه ده، چې د شام جهادي تحریکونه هغه هېر کړي، په داسې حال کې چې د هغه د وکیل **لین استیورټ**[11] په یاد وي؟ دغې ښځې د شیخ په دفاع کولو او د هغه د بیانونو تر نورو رسولو په سزا کې اووه کال زندان وګالی، خو له دې سره سره د هغې شفاخانې مخې ته ورسېده، چېرته چې شیخ وفات شوی و، له هغه سره یې وفاداري څرګنده کړه او هلته یې د ګلونو ګېډۍ کېښوده.

دا بې غوري یوازې تر هغو خلکو پورې محدوده نه شوه، چې له شام څخه بهر و، بلکې په خپله په شام کې دننه هم جهادي تحریکونه خپل اکابر مجاهدین او شیوخ نه یادوي، زموږ محبوب ورور، زاهد او قائد شیخ ابو الخیر المصري رحمه الله په شام کې د مجاهدینو په منځ کې شهید شو، خو د شام یوې ډلې یې هم د شهادت په مناسبت د تسلیت یو کلمه هم ونه ویله. آیا دا یوازې په دې خاطر چې هغه د امریکا له دښمن «القاعده» سره تړاو درلود؟

هغه ابو الخیر چې دوی پوره استفاده ترې وکړه، خو د هغه پر شهاد یې د تسلیت یو حرف هم نه

[11] «لیري ستیوارټ» یوه امریکایۍ وکیله وه چې د شیخ عمر عبدالرحمن رحمه الله د قضیې په پرمخ وړلو کې یې د هغه دفاع وکړه. بیا پر هغې باندې دا تور ولګېد، چې هغه د شیخ عمر عبدالرحمن پیغامونه د هغه تر تنظیم «الجماعة الاسلامیة» پورې رسوي. پر همدې اساس په ۲۰۰۶ میلادي کال کې د امریکا محکمې هغې ته د ۲۸ میاشتو قید سزا واروله. خو بیا په ۲۰۱۰ کې د هغې سزا لس کاله شوه. خو د صحت د زیات خرابوالی له امله د ۲۰۱۳ میلادي کال په دسمبر کې آزاده کړل شوه. په ۲۰۱۷ میلادي کال کې د سرطان د ناروغۍ له امله مړه شوه. هغې پر امریکایانو د کېډونکو حملو په دې خاطر حمایت کاوه، چې په خپله امریکایان د شومره مسلمانانو قاتلان دي او دا خو بدله ده. (اداره)

دی ویلی، په داسې حال کې چې زموږ ترمنځ د مبارکیو او تعزیت پیغامونه سره لېږل کېدل.

اې زموږ ورونیو، زموږ دوستانو او زموږ د سر تاج، د شام مخلصو مجاهدینو! الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿لَّقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾ [الفتح: ١٨]

«یقیناً الله له مؤمنانو څخه راضي شو، کله چې دوی تر هغې ونې لاندې له تا سره بیعت کاوه، نو الله په هغه څه پوه شو چې د دوی په زړونو کې وو، نو پر دوی باندې یې ډاډ او ارامي نازله کړه او هغوی ته یې د یوې نژدې فتحې بدله ورکړه».

او الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْأَنفَالِ ۖ قُلِ الْأَنفَالُ لِلَّهِ وَالرَّسُولِ ۖ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ﴾ [الأنفال: ١]

«(اې پیغمبره!) خلک له تا څخه د مالِ غنیمت په اړه پوښتنه کوي. ووایه چې مالِ غنیمت د الله او د هغه د رسول لپاره دی (د هغه په واک کې دی). نو له الله څخه ووېرېږئ او په خپلو منځونو کې اړیکې سمې کړئ».

همدارنگه الله عزوجل فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ تَوَلَّوْا مِنكُمْ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ إِنَّمَا اسْتَزَلَّهُمُ الشَّيْطَانُ بِبَعْضِ مَا كَسَبُوا ۖ وَلَقَدْ عَفَا اللَّهُ عَنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ حَلِيمٌ﴾ [آل عمران: ١٥٥]

«بې شکه هغه کسان چې له تاسې څخه په هغه ورځ وتښتېدل، کله چې د دواړو لښکرو ترمينځ جګړه ونښته، په حقیقت کې شیطان هغوی د ځینو هغو اعمالو په سبب په خطا کې واچول چې دوی کړي وو، او یقینا الله هغوی وبښل. بې شکه الله ډېر بښونکی او زغم کونکی دی».

او الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿أَوَلَمَّا أَصَابَتْكُم مُّصِيبَةٌ قَدْ أَصَبْتُم مِّثْلَيْهَا قُلْتُمْ أَنَّىٰ هَٰذَا ۖ قُلْ هُوَ مِنْ عِندِ أَنفُسِكُمْ﴾ [آل عمران: ١٦٥]

«آیا کله چې تاسې ته کوم مصیبت ورسېد، په داسې حال کې چې تاسې له دې څخه دوه چنده مصیبت رسولی و، نو تاسې وویل: دا (مصیبت) له کومه ځایه راغی؟ ووایه: دا ستاسې د خپلو ځانونو له لوري (ستاسې د غلطۍ په سبب) دی».

موږ غواړو... او زه تر هر چا زیات د دې محتاج یم... چې خپل زړونه اصلاح کړو. زموږ رب دې

زموږ په منځ کې د مؤمنانو لپاره نرمي او د کافرانو پر وړاندې عزت او استقامت ووینې. موږ باید په رښتینولۍ سره د خپلو ځانونو محاسبه وکړو، پر خپل طرز العمل باندې بیا کتنه وکړو، د خپلو غلطیو د اصلاح او له الله تعالی څخه د مغفرت غوښتنه وکړو، او بیا د نصرت، کشادګۍ او بریا په تمه اوسو.

## [موږ غواړو چې د دین د دښمنانو پر وړاندې ټول امت یو صف شي]

موږ غواړو چې له ترکستان څخه نیولې د اتلانتیک سمندر تر ساحلونو پورې، ټول امت د یو بل تر څنګ د اوسپنې د کلک او قوي دېوال په څېر ودرېږي. موږ غواړو چې د الله تعالی دا فرمان زموږ په منځ کې په حقیقت بدل او ښکاره شي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الَّذِينَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِهِ صَفًّا كَأَنَّهُم بُنْيَانٌ مَّرْصُوصٌ﴾[الصف:۴]

«حقیقت دا دی چې الله له هغو کسانو سره مینه کوي چې د هغه په لاره کې په داسې صفونو کې جګړه کوي لکه هغوی چې د اوسپنې اوبدل شوی دېوال وي».

اې الله! زموږ دا پاشل شوې ډله راټوله کړې، زموږ په زړونو کې مینه پیدا کړې، زموږ صفونه متحد کړې، او د دښمن پر وړاندې زموږ مرسته وکړې؛ زموږ د ګناهونو او پر خپلو ځانونو د زیاتیو له امله له موږ څخه حساب مه اخلې.

اې الله! زموږ د ګناهونو په سبب موږ له خپل نصرت او د دعاګانو له قبولیت څخه مه بې برخې کوې. ای الله! که موږ د دې لائق نه یو، نو ته په خپل جود او کرم سره موږ د دې لائق وګرځوې. زموږ لاسنیوی وکړې او موږ ته له خپل شان او کرم سره سم ښښنه وکړې.

اې الله! ته ښه پوهېږې چې موږ تر تعقیب لاندې، بې کوره او مهاجر یو؛ نو کوم خلک چې زموږ د ایستلو او پر موږ باندې د تنګسیا راوستلو هڅې کوي، موږ د هغوی له اذیت او شر څخه خوندي وساتې. په خپله ځمکه کې موږ ته کشادګي راکړې او زموږ لپاره یې پراخه کړې.

**وَآخِرُ دَعْوَانَا أَنِ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَآلِهِ وَصَحْبِهِ وَسَلَّمَ.**

**وَالسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ.**